هر نشەوَر (مستی راوستونکی) شی حرام دی

له ابی بردة رحمه الله څخه روایت دی چې هغه له خپل پلار ابو موسی الأشعري رضی الله عنه څخه روایت کوي: رسول الله صلی الله علیه وسلم یمن ته واستاوه، نو هغه ترې د هغو څښاکونو په اړه وپوښتل چې هلته جوړیږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «هغه څه دي؟» ده وویل: «البِتْعُ او المِزْرُ» نو ابی بردة ته وویل شول چې: «البِتْعُ څه شی دی؟» هغه وویل: د شاتو نبیذ (یعنې هغه څښاک چې له شاتو جوړیږي او وروسته نشەوَر شي) او: المِزْر: د وربشو چمتو شوی څښاک دی، نو هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «هر نشەوَر (مستی راوستونکی) حرام دی». بخاري روایت کړی. او مسلم دا حدیث روایت کړی دی او د هغه الفاظ داسې دي چې: ابو موسی الأشعري رضی الله عنه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم زه او معاذ بن جبل یمن ته واستولو، نو ما وویل: اې د الله رسوله! زمور په سیمه کې یو ډول شراب جوړیږي چې «المِزَر» ورته ویل کېږي، او له اوربشو نه جوړیږي، او یو بل ډول شراب دي چې «البِتْع» ورته ویل کېږي، او له شاتو نه جوړیږي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «هر نشەوَر شی حرام دی». او د مسلم په یوه بل روایت کې دي چې: «هر هغه څه چې د لمانځه څخه (انسان) بې هوښه کړي، نو هغه حرام دی». او د همده په یو بل روایت کې دي چې: «رسول الله صلی الله علیه وسلم ته (جوامع الکلم) یعنې لنډې خو له معنا ډکې ویناوې ورکړل شوي چې په ویناوو مهر لګوونکي دي، نو هغه فرمایلي چې: له هر هغه نشەوَر شي څخه یې منع کړې ده چې د لمانځه له یاد څخه انسان بې هوښه کوي».

[صحیح دی] [البخاري او مسلم روایت کړی دی]

ابو موسی الأشعري رضی الله عنه خبر ورکوي چې نبي صلی الله علیه وسلم هغه یمن ته واستاوه، نو هغه (ابو موسی) له نبي صلی الله علیه وسلم څخه د یو ډول څښاکو په اړه وپوښتل چې په یمن کې جوړیږي، چې آیا حرام دي؟ نو نبي صلی الله علیه وسلم ترې د هغو په اړه پوښتنه وکړه. ابو موسی الأشعري رضي الله عنه وویل چې: البتع د شاتو نه جوړ څښاک دي، او المزر له اوربشو نه جوړ څښاک دي. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم؛ چې «جوامع الکلم ورکړل شوي دي وفرمایل: «هر نشه کوونکی شی حرام دی».

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66536

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee